نوددي په لیدلوزه حیران شوم پوښتنه مي وکړه چي مولوي صاحب دلته څه کوي. زما په لیدلو غلي شو او ویې ویل چي هسي ولاړیم ، چي هغي خواته ګورم نورغټ غټ کمونستان هم ولاړوو .

دغي وروړ په خپل لیك کي دځینو کمونستانو نومونه هم لیکلي وو او غوښتنه یي کړي ده چي داکمونستان باید محاکمه شي .

شهادت:

ورووه زمونږله طرفه هم سلامونه ومني دلیکونوپه نشرکي هیڅ ډول محدودیت نشته دي دستاسي لیکونویادونه حتمي کیږي . والسلام

حمایت حزب ازشیعه

نامه یي داریم که حزب اسلامي رابه خاطر حزب وحدت وسایر مردم شیعه مورد ملامت قرارداده است اینك متن نامه :

سلام واحترامات خویش رابه ادارهٔ شهادت تقدیم میدارم بعد! مسئول محترم ادارهٔ شهادت ماخواستیم تابپرسیم که علت پشتیباني شما از شیعه ها چیست تاحال این موضوع واضح نشده است .

چون من هرشمارهٔ شهادت رامطالعه مي نمایم تاازاوضاع کابل خبرشوم ودرهرشماره یك مضمون به پشتیباني ازهزاره گان به نشر مي رسد، آخرحوصله ام به تنگ آمده خواستم تابپرسم ،آیا شماازظلم وستم هزاره گان بیخبرهستیداگربیخبرهستیدیك بارروبه کوتهٔ سنگي نمائید که هریك ازظلم وستم وحشیانه وغیرانساني هزاره گان به اللفاظ واضح شکایت مي نمایند. چون هزاره گان مال رابردند سررابریدندعزت مردم رااهل سنت گفته زیرپاکردند اگراین همه درصفات مسلمان کامل شامل است که ماهم شروع به کارنمائیم ؟ اگرنیست دیگرچراحزب اسلامي ازاین مردم پشتیباني میکند ؟

هزاره به خون سني تشنه است وسني اورادرآغوش گرفته پناه میدهدآیاهمین انصاف است همین قانون اسلام است .

بااحترام شاه محمود ساکن دین بهارکالوني پشاور

شهادت :

برادرعزیزشاه محمود! ظلم و ستم وتخطي واشتباه اگردرجایي ازهزاره وشیعه دیده شده ازاقوام تاجك ، پشتون ودیگراقوام نیز دیده شده است

ازظلم یکعده افراد در میان مردم برادرهزاره مااطلاع داریم . عقیده مااین است که آنهامانند منحرفین سایرطوایف واقوام مربوط به مردم هزاره وشیعه نیستند .

مردم هزاره وشیعه مسلمان اند وبرادرماوشماهستند. دقت داشته باشیم که دشمنان اسلام میخواهدجنگ هاوحساسیت هاي نژادي وقومي رابوجود بیاورند ، اسلام باجنگ قومي ونیشنلستي کاملاً مخالف است .

حمایت حزب از حزب وحدت بخاطرآن است که این حزب مورد تجاوزواقع شده است.

موفق باشید

#####

محترم وروور ثنایي دشهادت اداري ته ترعلیکم والسلام وروسته دوه پوښتني رالیږلي اوځواب یي غوښتي .

، لومړي پوښتنه دحزب اسلامي له خوا دتاجکومهاجرودمسلح کولو اودویمه پوښتنه داده چي : آیادتاجکستان موضوع ریښتیایوه بین المللي دسیسه ده ؟

ځواب :

ورووه سلام ته دي وعلیکم وایو اوله خدایه دیښمن ژوند غوښتنه کوو دلومړي پوښتني په باب باید ووایوچي افغانستان اوس پخپله دکورنیوجګړو په لانجه کي راګیردي دحزب اسلامي لومړني ترجیح داده چي اول زموږپه خپل هیواد کي سوله اوامنیت تأمین اویوقوي مرکزي حکومت جوړشي .

دتاجکستان له مسلمانانو سره دوسلي دمرستي پوښتنه هغه وخت مطرح کیداي شي چي یومحل حکومت جوړشي .

ددویمي پوښتني ځواب داادي چي په تاجکستان کي دمسلمانانوحکومت جوړشو اوامریکي اوروسانوپکي دمستقیم مداخلت پواسطه مسلمانان له قدرته ګوښه کړل نودادتاجکستان په اړه یوه دسیسه څه چي بیشرمانه لاسوهنه ده .

##

محترم ورووولي الله محمدپور صاحب ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .

ورووه ! ستاسي رالیږلي مضمون موولوست . له دي امله مونشرنه کړ چي لاندي نیمګړتیاوي لرلي .

۱- داچي په سرکي راغلي له نقل نه یي له اصلي موضوع سره یي ارتباط ورکړاي شوي نه و .

۲- داچي دموضوع وخت له تشرخته تیرو .

۳- داچي انتقاد[illegible] ستانه بڼه نه لرله .

٤- داچي دجلال آباد مذاکرات خوداي في الحال بریالي سرته ورسیدا اوستاسي لیکنه دمذاکراتو دجریان اوتري دمخه حالاتو په باب ده .

هیله ده زموږمعذرت به ومني

اهمیت علم توحید دردین اسلام

مترجم : میرحفیظ الله

قال الله تعالي
فینظر الانسان الي طعامه : عبس (٢٤)

سوال : چراخداوند متعال ماوشما امرنموده است تا درین آیه مبارکه فکر وتدبرنمایم ،آن هم درغذا ؟

جواب : این سوال واضح وروشن مثل آفتاب است که خداوند متعال ماوشمارا امر نموده تا در همه چیز فکر نمایم ،که ازان جمله درین ایه مبارکه غذا مي باشد غذا نیز یکي ازمخلوقات الله (ج) میباشد وچنانچه واضح است در هر مخلوق قدرت وصفات به مشاهده میرسد.

درین جا سوالي به ذهن خطورمیکندکه کدام صفتها وقدرت هاي خداوند را درفکر نمودن غذا میتوانیم مشاهده نمایم ؟

درجواب باید گفته شود که صفتهاي بسیار زیاد خداوند متعال را میتوانیم مشاهده نمایم که ازآن جمله - الرزاق ، العلیم ، الخبیر ، الحکیم ، الرحیم ، الکریم ،الهادي ، المحیي و المصور مي باشد .

درین جا سوال دیگري به ذهن خطورمي کند که چطور خداوند متعال رازق است ؟

به جواب این سوال یك مثال بسیار کوچك مي دهیم .

همانطورکه خداوند متعال است همه مخلوقات خویش را غذا تهیه میکند همانطورکه خداوندمتعال انسان را درشکم مادربرایش غذا تهیه میکند که نه پدرونه مادر ونه حکومت ونه مردم ونه داکتر ها ونه در شفاخانه کسي قادراست براي انسان درآن وقت کمك نماید وآنرادرشکم مادر ان تغذیه نماید . درحالیکه اودرشکم مادر خود میباشد ولکن رازق همان خداونداست که ازرحم مادر آن توسط (حبل السرة) غذارا به شکم طفل به بسیار حکمت خاص که هیچ کسي به این ترتیب قادر نخواهدبود داخل مي نماید وتانوماه بدین ترتیب تغذیه میشود.

وقتیکه طفل تولد گردد وهمان وسیله تغذیه اش قطع شود پس کیست غیر ازخداوند متعال که بندد همان راه راکه توتغذیه میشدُوکیست که پیدانماید برایت طریقه مناسب دیگر را که عبارت از دهن ،حلق , معده است غیر ازخداوند متعال،

آیا مادرت بود ویاپدرت ویا حکومتي بود که بندنمود همان را، تغذیه شدنت راوبازنمود برایت دهن وجهاز هضمي ؟!

وبعد ازاینکه ازشکم مادرتولد شدي ، طفل بودي ونمي توانستي که بخوري ویا هم بنوشي وغذا،توهم ازطریق شکم مادرت قطع شد ، پس غیر الله کیست که وسیله دیگر براي تغذیه نمودنت پیدانمودوآنهم عبارت ازسینه هاي مادرت است سینه هاي که قبل از ولادت خالي ازشیر بوُ همان راازشیر پرمي کند وبرایت همان خداوند رازق الهام میکند که توبجوشي ازسینه مادرت واگر نی توخو خوردن ویاجوشیدن را هم نمي داني دران وقت بعدازاین مرحله بایدبداني که تاچه وقت بالاي سینه هاي مادرت اعتماد داشته باشي بخاطر یکه بعدازتودیگر برادر ان وخواهرانت بدنیا مي آیند وباید توازسینه هاي مادرت دورشوي ومستقل شوي وخودت باید چیزي راکسب کرده وبخوري .

قسمیکه همان خداوند در هر وقت برایت وسیله مناسب براي تغذیه شدنت مهیا ساخت بعداز این مرحله همچنان وسایل مناسب برایت مهیا میسازد .وهمان رازق تورا درهیچ جاي درمیدان خالي وبدون وسیله نمي گذارد .

خداوند زمیني راپیدانموده است وآنرا برکَشت وزراعت صالح گردانیده است. وآب را پیدا نموده که زراعت به آن احتیاج دارد درساختن غذا براي تووبراي همه مخلوقات کمك مي کند . وهوا راپدانموده است که همه چیز در دنیا به آن ضرورت دارد ودرساختن غذا براي تو وبراي همه کمك مینماید . وآفتاب را پیدانموده است که بدون آن زراعت وهمه زندگي مثمر نمي باشد.

وهمان خداوند واحد لاشریك وکار سازي است که جمع نموده غذا که پراگنده بوده در روي زمین مثل گندم ، جو - جوار انگور ، مالته نارنج وغیره وگشتانده است براي تو دندان هاي بسیار زیاد تیز وقطع کننده تابرایت خوردن ونوشیدن این غذا ها آسان شود.

########

توافق جلال اباد شکل عملی معاهدهٔ اسلام آباد

محمدرحیم

پس ازسقوط رژیم کمونستي نجیب وپیروزي مجاهدین توقع ملت مسلمان ما آن بودکه بااستقرار نظام اسلامي همه مشکلات وهمه رنج هاي مابرطرف وباب سعادت وخوشبختي برروي فرد فرد ایشان بازخواهد شد ولي دشمنان رنگارنگ ملت مسلمان ما درهمه ابعاد دست به کارشدند تاباایجاد جنگ ونفاق میان مجاهدین که عمري براي استقرار وپیروزي نظام اسلامي رزمیده بودند جریان اوضاع رابه سمت دیگري که فقط منافع استعمار راتضمین کند سوق ورهنمایي کنندونگذاشتند مجاهدین ودرمجموع مردم مسلمان ما پیروزي شان را برکفر وکمونیزم باشوروهلهله درفضاي اخوت ووحدت جشن بگیرند .آتش جنگ هاي خانمان سوز وتباه کن راافروختند ولي هنگامي که مجاهدین به هم نزدیك وجهت ایجاد امن واستقرارنظام اسلامي به مفهوم حقیقي اش تعهداتي مي سپردند وگام هاي عملي درجهت تطبیق آن برمیداشتند عمال کفر واستعمار وضع رامتشنج وجنگ راآغازمیکردندوبدین ترتیب میان مجاهدین فاصله ایجاد میکردند .

چنانچه همگان شاهدیم که ظرف یکسال ویکماه گذشته چندین بار معاهداتي بین مجاهدین صورت پذیرفت تاآتش جنگ خاموش وحکومت اسلامي موردتائید همه مجاهدین حاکم برامور شود که متاسفانه تسبت تحریکات عناصر وابسته به استعمار بین المللي هربار تعهدات حاصل شده صرف روي کاغذ باقي ماند وشکل عملي بخود نگرفت.

مردم زجردیدهٔ ما نیز بامشاهدهٔ این وضع کاملاً مایوس وچندان دل بستگي به توافقات نشان نمیدادند زیرامشاهده کرده بودندکه توافقات ومعاهدات فقط اعتبار کتبي روي کاغذ داشتند.

ودرعمل هیچ یك ازآنها پیاده نشد.

روي این مسئله که کدام طرف ناقض پیمان هاي گذشته است نمي پیچیم وقضاوت را به هموطنان مسلمان ومجاهدین هدفمند خویش مي سپاریم که آنها بدون شك به کنه وحقیقت موضوع خوب پي برده اند . اما خداوند خیرالناصرین اکنون رحمت بي پایان اش را شامل حال ما ساخته است که رهبران محترم جهادي پس از سه هفته جلسهٔ پي درپي درجلال آباد بخاطرعملي شدن معاهدهٔ اسلام آباد که درهفتم مارچ پس ازجنگ خونین به امضا رسید به توافقات عملي روي تشکیل کابینه وسایر موضوعات مهم کشوري ودولتي دست یافته اند.

این گردهمایي که درنتیجه زحمات بي مثال شوراي جهادي ولایت ننگرهار دایر گردید سرانجام باموفقیت وپیروزي به انجام رسید به همه تنظیم هاي جهادي پس از جروبحث هاي زیاد کابینه تشکیل شد اسامي وزراء اعلان وتوافق همه تنظیم ها نیز حاصل شد که میتوان آنرا شکل وصورت عملي معاهدهٔ اسلام آباد دانست زیرا بااعلان کابینهٔ جدید کابینهٔ قبلي مستعفي وسلسله منازعات واختلافاتیکه بین تنظیم ها برسرتشکیل حکومت وجود داشت عملاً ختم شد دیگر هیچ جایي براي اختلاف باقي نمانده به هریکي از احزاب جهادي سهم مناسب بادرنظرداشت موافقت کلي آنان داده شده است وبااین کارتبلیغات نارواي دشمنان اسلام که گویا رهبران جهادي هرگز به توافق وسازشي دست نخواهند یافت خنثي شد هنوز هم براي جلوگیري ازدست درازي هاي این دشمنان قسم خورده ما کارزیاد باقي است ومهمتراینکه اگرحکومت جدید التشکیل توانست درفضاي اخوت وبرادري ، صلح ودوستي درکابل کارش راآغازکرد به یقین میتوان گفت که دست دشمنان را ازآرنج قطع کرده ایم که دراین رابطه مسؤلیت بیشتر متوجه رئیس صاحب دولت است که فعلاً درادارات حکومتي حاکم اندتاباسَعه صدرواخلاص کامل امور وزارت خانه ها را به وزراي جدید بسپارند تاعملاً حکومت جدید به کارخویش آغازکند ومتوجه این امرنیز باشند که وقت وشرایط بسیار حساس ودشمنان ماچون مارهاي زخمي به هم مي پیچند وتلاش دارندتااین جریان وروند را به رکود مواجه کنند زیرا وحدت مجاهدین ونزدیکي آنان دربخش هاي سیاسي ونظامي به همدیگر به مثابه بم اتم بالاي دشمنان ماوخصوصاً بقایاي رژیم کمونستي گذشته است که باتحقق آن آنان نابود خواهند شد.

زیرا این یك حقیقت مسلم است که کمونست ها بارژیم استبدادي وغیراسلامي شان درهمان روزکه مجاهدین واردکابل شدندبه مرگ ابدي دچار شده بودندولي این اختلاف ماباعث شدکه آن مردگان کثیف دوباره چون جراثیم درلابراتوارنفاق کشت ودوباره زنده شوند ورنه قدرت مقابله بامجاهدین رادر همان روزکه مجاهدین پیروزمندانه واردکابل شدندازدست داده بودند امروز جنرال هاي چون بابه جان وغیره جرأت عمل نمي داشتند .

بهترین راه علاج مشکلات فعلي ما درعملي شدن کامل توافقات اسلام آباد وجلال آباد بااخلاص کامل است ومیتوان آنرا سدفولادین درمقابله باتوطیه هاي رنگارنگ دشمنان خویش تلقي کرد. اگر خداي نخواسته این بار هم تعهدات سپرده شده جامعهٔ عمل نمي پوشد ومانندسابق انحراف صورت بگیرد این مسؤلیت راکسي بردوش خواهد داشتکه ازتعهدخویش سرپیچي میکند وزمینهٔ جنگ وخون ریزي بیشتر راساعد مي سازد.

اما امیدواریم که جنگ هاي گذشته درس عبرتي باشد برهمگان ، بخصوص آنانکه همیشه برتعهدخویش پاگذاشته اندکه ازجنگ چیزي ساخته نمي شود جبر آن متوجه مجاهدین وملت مسلمان ما میباشدبرعکس مفاد ازدشمنان اسلام وبقایاي کمونیزم درکشور ودرنتیجه آن همان کاسه لیسان قصر کرملین تشجیع خواهندشد تاهرچه بیشتر دست به اعمال ضد انساني وغیر اسلامي بزنند وحیثیت پر افتخاري راکه مجاهدین درسطح ملي وبین المللي وخصوصاً درجوامع اسلامي کسب کرده اندبه معرض نابودي قراردهند.

همین حالا جریان تبلیغات نارواي رسانه هاي خبري وابسته به کفر جهاني رااگر دقیقاً متوجه باشیم بخوبي درك میتوانیم که همه تلاش هاي آن درجهت سبوتاژکردن حیثیت مجاهدین است میخواهند ازمجاهدین وحکومت اسلامي چهره بي زشتي ارایه دهند وطوري تفهیم کنندکه مجاهدین خداي نخواسته مردمان بي دانش بي اداره وحکومت اسلامي خداي نخواسته جواب گوي نیازمندي هاي فعلي ملت مسلمان افغان نیست وبه همین خاطر بسیار دقیق وپلانیزه شده کارمیکنندتابه چنین هدفي برسندکه ان شا الله نخواهند رسید. زیراتوافق جلال آباد درحقیقت شکل وصورت عملي معاهدهٔ اسلام آباد ومشت کوبنده بردهان دشمنان ما ووسیله بس موثري جهت نزدیکي وهم آهنگي کامل مجاهدین درهمه اطراف واکناف کشورما محسوب میشودکه ازخداوندآرزوداریم به همه طرف هاي شامل دراین معاهده قدرت عمل ببخشدتاملت وکشورما براي همیش ازمنجلاب کنوني نجات یابند صلح وصفا قایم وحکومت اسلامي باپایه هاي متین واستوارثابت بابرجااستقراریابد.

محمدخلیل

اخوت

محبت اورحمت دخداي صفتونه دي اوالله پاك یواځي هغوانسانانوسره محبت کوي چي دهغه جل جلاله له بندګانوسره محبت کوي، اسلام دسلامتي، امن اوښیګڼي دین دي، اوټولوانسانانوته یودبل سره مینه اخلاص او وروږګلوي درس ورکوي، ویي ته ددوي ورکولو، تږي ته داوبوورکولو، اوضرورت مندوته دهغوي دضرورت پوره کولوترغیب ورکوي. دالله پاك مبارك ارشاددي، پرهغه چارحم کیږي چي په نورورحم کوي .تاسي دمځکي پراوسیدونکو رحم وکړي داسمان مالك به پرتاسي رحم وکړي. جذبه یواځي انسانوله ...وقف نه ده بلکه داعام دي چي ... هم ترینه ګټه اوچتولي شي. ... دیراوچت مقام دي اوالله ورته دیرثوابونه ورکوي، یوځلي یوي بدکاري ښځې سولید چي دتندي له لاسه ژبه ایستلي اودمرګ په حالت کي پروت دي ،هغي ښځې خپله موزه وویستله اوبخپل ټادرپوري یي وتړله په څاه کي یي واچوله اوبه ئي وویستلي اوسپي ته ئي ورکړي . رسول الله صلي الله علیه وسلم چي داکیسه اوورېده نوویي فرمایل الله پاك ددغي ښځې ګناهونه ددي دنیك کارپه وجه وبخښل . بیائي وفرمایل: په ذیروح باندي درحم کولوپه وجه تاسي ته ثواب درکول کیږي .

داخوت لمرني غوښتنه اوتقاضا داده چي یومسلمان دخپل مسلمان ... ردځان اومال احترام وکړي، ځان دالله پاك یوخاص بخښش اوعطیه ده ... هیچا ... ددي اجازت نشته چي دالله پاك دانویه عطیه پخپل لاس برباد ... ژوندسلسله وریاندي خرابه کړي . ... ځان ... وروسته دانسان دویم عزیز اوګران شي دهغه دمال واّبروځمند دي الله پاك فرمائي : تاسي پخپلرکي یودبل مال په ناحقي طریقي سره مه خوري .

د... رسول الله صلي الله علیه وسلم مبارك حدیث دي چي څوك خپل مسلمان ورورپه داسي وخت کي بي مرستي پریږدي چي دهغه پرعزت وتیري کیږي نوخداي پاك به ... داسي وخت کي بي مرستي پریږدي، اوچي څوك دکوم مسلمان مرسته په داسي وخت کي کوي نوالله پاك به هم په داسي وختکي دهغه مرسته کوي .

داخوت دریمه غوښتنه داده چي یومسلمان دبل مسلمان مرسته اواعانت وکړي . رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي ، مسلمان دبل مسلمان ورورډي نه وریاندي ظلم کوي اونه ددي له مرستي نه لاس اخلي څوك چي دخپل مسلمان ورور دحاجت پوره کولو په لټه کي وي الله پاك دهغه حاجت پوره کوي، څوك چي کوم مسلمان وروړله مصیبت نه وباسي الله پاك به په ورځ دقیامت کي له مصیبت نه خلاص کړي .

اوکوم مسلمان چي دچاعیب پټ کړي نوالله تعالي به دقیامت په ورځ دهغه عیب پټ کړي . په حقیقت کي داکائنات یودبل سره په اتحاد کولو سره قائم دي بني آدم دیوجسم پشان دي که چیرته دبدن کوم اندام ته درد اوتکلیف ورسیږي نوټول بدن ناقراره دي . بالکل همداشان کیفیت دټول عالم اومخصوصاً په ټولو مسلمانانو دي، په دنیاکي دآرام اوخوشحال ژوندتیرولو رازپه همدي کي دي چي مسلمانان پخپلوکي یودبل په غم درداوخوشحالۍ کي شریك شي ، نن سبادپریشانیواوغمونو یواصلي سبب داهم دي چي موږدنوروپه غم اودردکي له شریکیدونه ډډه کوو، هرچیرته چي دمسلمانانو ترمنځ ژوري اړیکي وي اویودبل په غم اوتکلیف کي شریك وي نو یوپرسکون اوخوشحال ژوندبه دهغوي په نصیب کي وي .

پوه معالج

فضل غني "کاموال"

دټولو انسانانوداخلي کیفیتونه ، اخلاقي استعدادونه اونفساني قوتونه یوشاني ندي بلکه په انسانانوکي ضعیف اوکمزوري اشخاص هم شته اودقوي حوصلي څښتنان هم. پوهان هم موجودوي اوناپوهه هم مګرډیرښه اوپوه معالج هغه څوك دي چي هغه دهرقام اودهري زماني دضرورت سره مناسبي نسخي جوړي اوتیاري کړي . اودهر ډول دناروغانودعلاج کولو اودهغودمرضونولري کولو قدرت ولري . دسمي روزني اصول دادي چي دهرشخص اوهرقام دنفساني کیفیت دمعلومولونه وروسته کوم عنصر چي کم وي هغه پکي زیات اوکوم عنصر چي بي اندازي ډیروي هغه پکي کم کړي، په همدي ډول دهغوپه قوتونوکي مناسب برابروالي پیداکړي په ناامیدوخلکوکي امیدوروزي اوکوم خلك چي امید لري هغوي پدي پوه کړي چي کوم شیان تاسي ته درکول کیږي هغه الله (ج) درکوي خلاصه داچي دهغي انسان نه داوچتي ارادي څښتن جوړکړي .

همدارنګه حریص انسان دنورو خلکوڅخه داسي بي نیازه کړي چي هغه بي دخپل خداي (ج) څخه بل هیچاته سرتیټ نه کاندي . همداسي په خوارواوذلیلوانسانانو کي خودداري پیداکړي .

دغاوره انسانانودمغزونه دکبراوغرور مرض لري کړي. په خلکوکي نیك قوتونه وروزي اودخلکوبدوقوتونوته وده ورکړي اوبدوقوتونو مخه دنیکومقصدونولوري ته راوګرځوي داخلاقوفلسفي پوهان وائي چي دانسان دټولو اخلاقوبنسټ په دوه قوتونوولاړدي .

یوي ئي دغضب قوت اوبل ئي دشهوت قوت، دغضب قوت دهغه قوت نوم دي چي ددي قوت په ذریعه دخپل نفس څخه دهغوشیانو مدافعه کوي چي هغه دده دطبیعت سره برابرنه وي .

همدارنګه دشهوت قوت دنفس سره دمناسبو شیانو دحصول اوددي شیانودطلب قوت نوم دي .

ددي دواړوقوتونو دافراط ، تفریط، اعتدال اوددوي دمختلفو مراتبوڅخه په سل ګونه ښه اوبداخلاقي جزئیات راپیداکیږي چي داهریوڅانله جلاجلانومونه لري .

دغضب قوت که دافراط اوتفریط څخه پاك وي اودغه دغضب قوت دعقل په قابوکي راشي نودي ډول غضب ته شجاعت ویل کیږي چي دحالاتواوکیفیتونو په لحاظ په مختلفو شکلونو کي ځرګندیږي لکه : خودداري ، زړورتیا، آزادي حق ویل، لوړهمتي، زغم ، ثابت قدمي، وقار ، صبر، سکون، دحق غوښتنه ، زیاراوکوښښ ، داسي نور .

هرکله چي همداقوت داعتدال څخه ووځي اودافراط مرحلي ته ورسیږي نوبیا" تهور" ورنه جوړشي اولدي تهورڅخه سلسله په سلسله . غرور خودپرستي تکبر، لوټي دنوروسپکاوي، ظلم ، قتل، اونور.

کله چي بیاهمداقوت دتفریط خواته راتیت شي نوبیا ورڅخه ، تیټوالي کم حوصله توب بي طاقتي ، ویره ، همدغه رازنورشیان دبستي په شکل کي راپیداشي .

کله چي دشهوت په قوت کي اعتدال موجودوي نودي اعتدال ته په اصطلاح کي "عفت" ویل کیږي چي په مختلفو قالبونو کي په مختلفو نومونو یادیږي لکه ، پاکدامني ، پرهیزګاري ، جوداوسخا، شرم اوحیا صبراوشکر، قناعت، بي غمي، خوش طبي، اونور کله چي بیاداصفت دافراط اوتفریط خواته میلان پیداکړي نولدي قوت څخه بیا حرص، طمع ، بي شرمي بدخرڅي ، بخل ، ریاء بي باکي بدچلني ، چاپلوسي حسد، اوداسي نوربدصفتونه راپیداشي .

داسلامي روزني غرض اومقصد دلته ددي دواړوقوتونوڅخه دافراط اوتفریط مخنیوي دي اوددي دواړوترمنځ دبرابري پیداکول دي. په اسلام کي دادواړه قوتونه په خپل ذات کي بدندي. بلکه کله کله ددوي داستعمال موقع اومحل بدوي. داسلام تعلیم داندي چي خپل دغضب قوت محوه کړه اوددښمنانو سره مینه اومحبت وکړه . اونه دادي چي خپل شهواني قوت فناکړه اوفقط یومجرد ژوند اختیارکړۍ .

بلکه مېنه داده چي خپل دښمنان معاف کړيُ اوخداي (ج) دښمنانو په حق کي دخیردعاوکړي چي هغوي ته هدایت وکړي اوپه سمه لیاره لاړشي

برگي ازتاريخ

محمدسرورهما ء

بررسي خلافت بني عباس :

مقدمه :

قبل ازآنکه واردبحث اصلي گردیم لازم است که درمورد تاریخ معلوماتي داشته باشیم .

اگرماتجربه رابهترین معلم تلقي نمائیم بایدبپذیریم که تاریخ بهترین درسگاه است، فلسفهٔ تاریخ درقرآن همین است که مکرراً ازپیروانش میخواهد تابرزندگي وتجربهٔ کسان پیش ازخودنظرکنند وازانجام خوب وبابد شان درس گیرند وازداستان هاي ترقي وتنزل شان نقشهٔ هدایت اخذ دارند .

مطابق نظریهٔ قرآن تاریخ یك رزمگاه خیروشراست، آنچه دراین رزمگاه واقع مي شودهمخوب نیست وهمه بد هم نیست برخي باعث خیروفلاح میباشد وبرخي باعث خسران وهلاکت . بعضي هاانعکاسات حقایق است وبعضي ها انعکاسات اباطیل وافساد .

این مشهوداست که هرملت وقومي مطابق بینش ، مذهب واخلاق بخصوص زندگي خودرااستوارساخته که پس ازگذشت سال هامورد بررسي مؤرخین قرارمیگیرد که آیارفتاروتهذیب ملت مورد نظرصالح بوده ویافاسد، وظیفهٔ اصلي مورخین است که براي تعمیرو بهبودحال نسل هاي آینده رهنمائي روبروي آیندگان قراردهد .

مورخ باید نقاط روشن وتاریك رفتارگذشتگان راباااثرات مفیدیامضرش مقابل انظارنسل هاي آینده بگذارد، دراین کدام زشتي دیده نمي شود که واقعات باآنصورتیکه بوده منعکس گردد به شرطیکه دلایل وحجج واضحه براي اثبات خیربودن ویاشربودن واقعه وجودداشته باشد .

تاریخ نویس حداعظم کوشش رابخرج دهدتاتعصبات مذهبي یاقومي رادرلابلاي نوشتارخودجاندهد البته ممکن نیست که طرزدیدتاریخ نویس درتاریخ سرایت نکند امارویهمرفته تاریخ نویس درحفظ وجمع آوري اسناد ومدارك ثقه توجه جدي مبذول بدارد تاآنچه ازوي باقي مي ماند بحیث یك سند مورداعتبارولایق پیروي مورداستفادهٔ نسل هاي بعدي قرارگیردوآرماني که مؤرخ به جهت آن کوشیده است برآورده گردد.نباید تاریخ باسایه هاي تعصب مورخ مسخ گرددبالاخره براي نوشتن تاریخ دیانت وصفاي وجدان لازمي است .

مطالعهٔ تاریخ آن زمان مفیداست که تمام ادوارحیات بشریك دفترواحد خوانده شودکه تجربه یکدورحیات به ادواردیگرحیثیت درس ، عبرت ورهنماراداشته باشد.

تاریخ درتعبیرمادي اش اینست که جریان هردورمخصوص به دوره خودش بوده وازادواردیگر بریده میباشد بدین معني که آنچه گذشته است، گذشته است وآنچه درآینده آمدني است کاملاً واقعات وحادثات جدیدونادرمیباشد. مسایل گذشته به گذشته تعلق داردکه باآن نابودمیگردد وواقعات حال دیگراست ویه کمك واقعات گذشته احتیاجي ندارد، که بااین نقطهٔ نظرهم تاریخ گذشته انسان افسانه بیش نیست که بایادآوري آن دل خوش مي شود وامادرسي ازآن گرفته نمي شود بناءً تعبیرمادي تاریخ کاملاً باطل میباشد .

تمام ادوارحیات انسان بهم پیوسته است که دراسم تاریخ جمع مي شود ، درطي هزاران سال چه تعداد حادثات بامدوجذرهائي پیش آمده است، چه تعداد حوادث انقلابي ودگرگون کن واقع شده است، فرهنگ ورفتاراقوام پیش رفته است،ذرایع ووسایل تغیرنموده است، ظروف جدید بکارگرفته شده است ، مگراینهمه درامهٔ طوفانزااتنهایك محورداردکه آن انسان است .

تاریخ به اثرعمل انسان پیدامي شودودرتعبیري، انسان عبارت ازروح تاریخ است، تاانسان روي این کرهٔ خاکي نزول نیافته بود تاریخ وجودنداشت درحالیکه درزمان قبل ازورود انسان بروي این تودهٔ خاك حوادث وجود داشت، جمادات ونباتات وحیوانات وجودداشتند پس تاریخ به وجودانسان وابسته است، تاریخ باارتباطات انسانهاظهوریافته است، دراصل تاریخ تام آن تجاربي است که دردائرهٔ روابط مذهبي، سیاسي ومعاشرتي انسان به وجودآمده است.

به این لحاظ این گفته محق است که تاریخ عبارت ازمجموعهٔ رویدادهاي اخلاقي بشرمیباشد .

اقوام مختلفه بشردرادوارمختلف باهم روابطي داشته واین روابط به اشکال متنوع قالب بندي شده وبه اثرآن نقشه هاپرداخته اندکه بعضي ازآنهاکامیابي آورده وبعض تباهي . تاریخ ازآن تجارب بزرگ بحث مي نمایدکه داستانهاي تمدن وترقي وشکست وریخت بوده ونشانه ازاصول اخلاقي میباشد که باعث ترقي وتنزل اقوام گردیده است .

باوصف ایجاد وسایل وذرایع نوبراي مجادله باحوادث درمحیط

ص(۷)

سرکشي څپې

ناګار

دادبنیستونوزرستان درناګانووطن
سپیره قسمته اوس ترې چاظلمتکده جوړه کړه
پردې خوتلي داسرکشي څپې نورڅه کوي
چې په برخلیك یې غلچکې لوبه توده جوړه کړه
داقتدار دلیونـو په خونړو ستر ګوکي
څه زهرجنې تلوسې او څه ترخه پاتې دي
خو مجاهد ملت به خامخا خبروې پدې
چې دپاڅون په تیغه لارلاځوکاږه پاتې دي
داتوراوسپین چې لتوي له هیوادڅه غوارې نور
دلته غازي دلته شهید دلته مورچل معلوم دي
سازشکارانو! که رنګیني کړي دغصب جامې
دېرتکلف ته حاجت نشته ساداوغل معلوم دي
زړدې چــې قهرديتيم لکه دتندرغوندي
دانقلاب دکورسنګیني حوصلې ماتې کړي
اوبیازمـوږدازوریـدلې پـاریدلې هیواد
دهرسازش دځنځیر توري سلسلې ماتې کړي
نعم البدل دشهیدانودتوي شوووینو
له اسلامي حکومت پرته څه کیدلي شي نور
دتکبیرونودهیوادبچوري مه ازموی
نه ستربهیردچاکرم ته ټمیدلي شي نور
که پري دکوم یوه خپلـري شان ته زیان هم رسي
خودپاڅون دغه کاروان به خپل تکمیل پـسي ځي
بـوخـلي بیا دلـورو تېتودسمنت لپاره
دانقـلاب شـاعرشېبلي داسرافیل پـسي ځي

پرزخمونو مالګه

نجیب الله محمدپور

امبارخاورو په وعدو باندې دي مه اروه
خاطردخداي کړه،په زخمومي مالګه مه دوروه
دزړه توته ئې چې توتي توتي شوه زړه ته ګوره
ورته پټې شه پرهرونه ئې نورمه شروه
چې دوحشت په مردکوټې تن غلبیل غلبیل شو
ته دي نفاق مرچ نوربدې غلبیل کې مه چنوه
تاریخ ګواه د"خلافت" دشان شوکت دي زما
پدې عظیمو دبدبومي کفن مه غوړوه
په خواره سترګه ورته کله چیرې ونه ګورې
دغه عظیم جهادي څواك مې ګوره مه وروه
دوینو هرڅاڅکي مې ګوره انقلاب راولې
په څاڅکي څاڅکي ئې کشمیراوفلسطین روڼوه
زه خودې وروئم په ماولې تاراکونه کوي
ارمان به وکړې د" زلال" اوبه نورمه خروه
مادجهاد وسله لاندې اېښې ناست نه یم
دخودخواهي " هبل" دمات کسري دي ونړوه
زماپه مټ کې لاقوت په زړه کې متره شته ده
حیادې ساته په عالم کې نورڅان مه خروه
داپرتمین څواك دولس او پرګنوته ګوره
پردې لاسونه دې ګریوان کې یاره مه خروه
خولې دهیلومې سوالګره غوندې سوال کړې درته
نورددښمن سخې زماپه سپکه مه سروه
دې مظلومانو سترګې تولې زمونږپه لورنیولې
درب لپاره بخیل خیال دي په "کرم" غوړوه
داد"اخدود" سکروټوزمادزړه چینې وچې کړې
نوردهوس اوردمظلوم په اوښکومه سروه
څه دې ویل اوڅه دې وکړل لږګریوان کې ګوره
نوردوعدوپه ماتیدو باندې مونږمه کروه
راځې لاسونه سره ورکړو یوځل بیاوروڼه شو
فرصت لاشته دي د"نجیب" په غړغوړمه کنوه
انبارد خاورودې به توي ترون مه اروه
خاطردخداي کړه په زخمومي مالګي مه دوروه

پوښوي

قاطن

زاغي راته زیرې چې مشران سره یوشوي
خوښي ده ، تازه ګي ده، رهبران سره یوشوي
تسل دیتیمانو، دشهیدارمان لپاره
ئن بیامرورورونه ، افغانان سره یوشوي
چې جوړشي وران ویجاروطن چې سولې ته لیوال دي
آبادسمسورپه بیاشي، معماران سره یوشوي
ګوشیرومونددوبارزړونوخفه دحق پالونکو
دحق ترویج دپاره عالمان سره یوشوي
په ویر، ماتم اخته شول شیطانان اومخ یې تورشو
په ضدد فحش فساد ،مسلمانان سره یوشوي
شپیلي دتوپك وابه روي لورته ددسـن
اجرادتعهدته تحریکیان سره یوشوي
وارث دشهداوشئ بیدارچې غافل نشي
چې پاك هدف دې لوټ کړي شیطانان سره یوشوي
کرارپه لتانشي ، خودې کندې ته ګوزارکړي
وراني ته دوطن،واره غریبان سره یوشوي
ویاړیږم زه (قاطن)،په بیرسرو مجاهدو
جهادپه پرمخ بیایي مخکښان سره یوشوي

خدایا

فارغي

چـه شوراست وچه فریادوچه غوغاست خدایا
چه ظلم است وچه بیدادکه برپاست خدایا
ازین فتنه وکشتاربهرکوچه وبازار
روان خون مسلمان چودریاست خدایا
چوآشوب قیامت بهرکوچه وبرزن
فغانهازثري تابه ثریاست خدایا
یکي درغم فرزنددګرهجربرادر
دګرناله کنان درغم باباست خدایا
پدرمرده هراسان پسرمرده به ګریان
یکي بیکس ودیګربه تمناست خدایا
بران وحشي نادان بران دشمن انسان
دوصدلعنت ونفرین هویداست خدایا
زجور کي بنالیم ویاپیش که زاریم
که این فتنه ګرازماست که برماست خدایا
زبس فارغي بي زارکندګریهٔ بسیار
زشب تابه سحرغایله برپاست خدایا

عید مبارک

طارق

مبارك عیدبرقوم سلحشور
که کشورراازبندآزادکردند
به افسرده دلان بي قراري
که یادخانه ئي آبادکردند
مبارك بریتیم دردمندي
که شورخانه اش بربادرفته
زبس هرسوشنیده غرش توپ
صداي مادرش ازیادرفته

تاریخي خاطره

محمودي

پوخ ثبات اوسپه محکمه حوصله شه
دمیرانې په تاریخ کې نمونه شه
ظلمتونو، ناکردواوکړاووته
غرد صبراوعزمونو تاتره شه
نا امیده ئې چې به وختونه نه کړي
دمحنې اوزغم له وجهې نه اسره شه
منزلونه چې بد غورځوپرځوځپل کړي
دخلیل دارادونه اراده شه
په همت چې له ظالمه حقوق واخلې
په مظلوموتحریکوکې زمزمه شه
طوفانونه ئې چې مره ترمنزل نه کا
دکفري تیاروپه غیږوکې دیوه شه
دمنکرویت پرستوتوروزړوته
دتوحید په نورسمبال حقه ناره شه
چې دې هیرمحمودي نه کاندي هیڅکله
دجهادله تاریخونه خاطره شه

شعر و ادب در پرتو انقلاب اسلامی

مناجات

محمدحسن حقیار

پاکه ربه پوهه علم اوعرفان را
دغرور، کبر، ریانه چې خالي وي
چې توکل اسره مې صرف دستا په ذات وي
ستاپه ویشه اوپه قضااوقدرباندې
چې دښمن مې له نامه نه وویریږي
چې دښمن ستامخ دځمکي نه نابودکړو
هم بقاهم ارتقاراکې خاونده
چې حق یوې کاندې حق واوري اوحق وایي
چې بل نه کاندې ازارستارضاغواري
چې لیدل وکـاوحق اورېتې نشي
په خپل رحم ګناهونه رابخښش کړه
مؤمنانوکې مې شمار کړي پاکه ربه !
په عمل که وي خوزه ترینه محروم یم

جګې سترګې سرلوړې په ټول جهان را
دې نیکې باندې توفیق په هرزمان را
داسې کلك عزم اوښه قـوي ایمان را
اکتفااوقناعت راتــــه هرآن را
داسې رعب داسې دهشت توم اونښان را
داسې فتح اوبرې په هــر میدان را
له اسمان نه هم اوچت شوکت اوشان را
داسې یوزه اوغوږونه هم دهــان را
له هرعیبه راته پاك زړه اوزبان را
له جرئت نه راته ډك داسې چشمان را
ددوزخ له عذابونونه امــان را
نعمتونه دجنت حوري غلمان را
ماحقیارته یې په خپل فضل اواحسان را

دیتیم اختر

محمدعارف «رحیمي»

ماته خوشحالي اوداخترخبري مه کوه
زه دېروغمونو فریادونودردولي یم
نشته خوشحالي زما،زماپه کې لاغم جوړدي
زه دظالمانو کړاوونو ځورولی یم
ماته چې راېادشي هوسونه دپخوااختر
وژاړم فریادکړم شهیدپلار په زړه ویشتلي یم
لوږه لورواني دهجرت کډې به باروې څو
زه دبې زړه سویوظلم دېردېرکړولي یم
ماویل چې اخترپه شي جوړې به میلې کړمه
زه له خپله کوره لجفاکاروتښتولي یم
مورمې ګونده ناسته راچاپېره یتیمان ورونه
وږي تږي ناست یم سروګرمیوسوزولي یم
خدایه (ج) رحم وکړې ته مې سوال کړي دایمان قبول
نورمې صبرنشته چې په مورمې نازولي یم

کوم اختر؟

محمدکریم «رحیمي»

هغه خلك به خوشحال خوښ اوخندان وي
په کوم ځاي چې ارامي اواطمینان وي
اطمینان دروح چې هرچاته حاصل وي
په هغوخلکو اختردژوند هرآن وي
هغه قوم به په اخترڅرنګه پوي شي
دچاکورکې چې جنګونه هې سوران وي
دخوښي په ځاي دیم اوورونه ویني
په جنګونوکې بې مره خپل وخپلوان وي
خوارلس کالوکې اخترپه مونږرانغلو
شپه اوورځ هره ګړې موږه خفګان وي
دکفري رژیم په ختم خوشحالي شوه
ګوندې داکال موږخمونوته پاسمان وي
ولې برخلاف څه نورکارونه وشول
دابه مونږته مقرره له سبحان وي
رښتیا خپلو خودخواهیو کې تباه شوو
داکارنکړي که رښتیني مسلمان وي
خدایه مونږه ته پوهیږو ته پوهیږې
مشکل حل دي که ستارحم اواحسان وي
رحیمي وایي الله مشکل اسان کړي
دغه قوم به لاترکومه سرګردان وي

دیتیم اختر

محمدسرورقیام

خاندې خوشحالي کړي خلك وایي چې اختردي
اختردروغوزرووي ماته پروت سوي ځګردي
ټول ووځي میلوته دخوښي جامې په تن کې
اخترماته څه غواړي ماته تاودغم لښکردي
لوږه لورخوښي ده چې اختردقرباني دي
وریت شوپه ټمونوراته پروت نورالبصردي
اخترهغه اختروي چې تن پټ ګیده مړه وي
بریندوږي یتیم کره اخترڅه بختوردي
زه خوړم دزړګي وینې دپردوښاروميږوکې
غیران راسره نشته نه دچاپه مانظردي
چې لمونځ داختروشي خلك غاړه غړې وځي
زه ناست یم دروازه کې غوږولي مې خادردي
اخترپه وي خوښي به وي چې کله امن راشي
چې دزه، چوروچپاو نه وي قیام باندې اختردي

دشلم قرن په مکار باندې ونه غولیږې

عبدالباري غیرت

دشهادت ورځپاڼې دپنجشنبې دورځې په ١٣١ ګڼه کې د(شعراوادب درپرتوانقلاب اسلامي) په ځانګړې مخ کې دځوان شاعرامان الله نصرت شعرراغلي دي .

مادده دېرشعرونه لوستي اودده دځپاندو اسلامي احساساتو اوولولو څخه داخرګندیږي چې نوموړي داسلام په سپیڅلې لارکې هرډول قرباني ته ولاړدي اوکه په دې لار کې هر ډول ستونزې اومشکلات ورته پېښ شې دې به له خپل اصلي نصب العین اوهدف څخه ونګرځي .

دده دشعرونو سیلاب داسې روان دي لکه دپسرلي دموسم اوبه چې په خوړونوکې جاري وي او هیڅ ټامیدل اوپایان نلري . دده شعارونه داسلام دښمنانوته په ډاګه کوي چې مسلمانان راوښ اوستاسو په مکرونواوچلونو باندې هیڅکله نه غولیږي .

دده یوڅومنتخب اوغوره بیتونه دده دیوه شعرڅخه رااخلواوغواړم چې په هربیت یې یوڅه ناڅه دخپل وسې په اندازه رڼاواچوم .

دي په یوه بیت کې دښمن دساقي سره تشبیه کوي اوکاسه اونیم کاسه یې هم هغه پلانونه دي چې په ښکاره یوډول خوږه پټه بل ډول دي لکه چې وایي :

(له کاسې لاندې نیم کاسه ده دساقي په لاس کې
هسې ددروغوپه خمارباندې ونه غولیږې)

بیاپه بل بیت کې داپه ګوته کوي چې ددښمن هغه څه چې شات معرفي کوي په حقیقت کې داترخه زهردي اوکومې خبرې چې درته کوي داحقیقت نلري بلکه هسې تاثیرباسي ځکه چې ددې پیرې مکاردښمن دېرځیرك دي اوپه چل ول غواړي چې دوکه دې کړي وایي :

(شاتوکې زهردرکوي تاپه دوستي غولوي
دشلم قرن په مکارباندې ونه غولیږې)

په بل بیت کې وایي هغه چې دښمن اوبه معرفي کوي هغه په حقیقت کې سراب دي .

داچې په خپله شخصي ګڼه مطبوعاتي پروپاګند کوي داحقیقت نلري دادجرائد واو اخبارونو اعلامیې ټولې بیځایه اوتش په کاغذ باندې دتوریو اوکلماتو لیکل دي لکه چې :

(ازغي ازغي دې هرې خواته زمکه سره سکروټه
دکاغذ ونو په بهارباندې ونه غولیږې)

ده په خپل شعرکې دانقلبي کارونه داتیګي هلې ځلې اودابیځایه وېناوې په زهرو ، په اغزیو په زقوموباندې تعبیرکړې دي چې هریوددانسان دپاره ضررناك اوخطرناك دي اوبیایې ښکاره کړې ده چې داګلونه نه دي ګوره چې پرې غلط نشې . دې وایي :

(لاس ورته مه ووړه زقوم دي داژهر وبوټي
ګلونه نه دي پام کړه خارباندې ونه غولیږې)

په بل بیت کې چې اوس راځي داټول ګلونه اوشات دتیګي دامونه دي چې په حقیقت کې داټول خیالي ګلزارته ورته دي چې انسان یې تصورکوي خوکله چې سترګې لوځي کړې بیاهیڅ نه وي . دې داسې ځرګندونه کوي .

(په هرقدم درته خواره دي دتیګي دامونه
خیالي باغچوخیالي ګلزارباندې ونه غولیږې)

بیاوایي انسان په خپل ژوندکې بنایې یوخاص هدف ولري اوزموږ هدف هم داسلامي انقلاب سرته رسول اوداسلامي حکومت پلې کول دي. ترڅوچې دامقصدنه وي ترلاسه شوي بنایې چې هلې ځلې اوقرباني ادامه ولري . دنورو حکمونه ، دنورومشورې اودنورو قوانین منل موږته څه ګټه نلري بلکه زیانونه یې ښکاره دي .

په دې توګه وایي :

(ترڅوچې خپله خپل هدف ته رسیدلې نه وي
پام دپردیوپه سهارباندې ونه غولیږې)

بیاداسې ځرګند وي چې مسلمان بنایي اسلامي فیصله ومني اودقرآن تراحکامو لاندې اسلامي حکومت جوړکړي ځکه چې زموږ جهاد دخداي دپاره و نه دپردیو دپاره دي په دې هکله داسې وایي :

(وایي نصرت دخپل قسمت فیصله خپله وکړه
هسې په پریکړو داغیارباندې ونه غولیږې)

نوموړي حساس شاعرته دنورو داسې حقائقو اوسپیڅلواحساساتوپه لیا ځرګندلو کې توفیق غواړو ترڅو زموږاسلامي ټولنه دهغوپه رڼاکې دېریودرشل ته ورسیږي .

په مسلم ظلم

عبدالولي افګار

خدایه !څه ظلم وستم په مسلمان دي
په بوسنیاهرزګوینا په هندوستان دي
په هرڅه توم چې یادیږي کافریودي
پرې تطبیق حدیث دسرورجهان دي
هم محروم دي دحقوقو دبشرنه
په یوه نامه په بله جنګ روان دي
څه ئې مره اوڅه وکېنل دهیواده
داسلوك په فلسطین، تاجکستان دي
په وطن کې ئې شرارت زمونږ پیداکړ
په کابل باندې اوس بل اوردهجران دي
په جګړونې راته ښکلي وطن وران کړ
په هرځاي کې کندوالې اوهم ویران دي
په قومي اونژادي فرصت ئې ویږشي
دنفاق اصل یې بل سمت وزبان دي
ترڅوبورې به داچارې په مونږکیږي
ترهغې چې به نفاق خوار مسلمان دي
دافګاردزړه ارزو به خداي پوره کړي
مسلمان ګټلې تل ورروستې میدان دي

وضع اسفبارمسلمانان دربوسنیا وعملکردسازمان ملل متحد

ترجمه: مجیب

دهه اخیرقرن بیست عموماً دههٔ مصائب وآلام برمسلمانان وابتلاي بزرگي براي آنهاست حینیکه درنصف اول قرن بیست تعدادزیادي ازکشورهاي اسلامي علم آزادي برافراشتند، براي جهان غرب باعث تشویش زیادي گردید، زیراغرب دراین فکر است که آزادي کشورهاي اسلامي ووحدت میان آنهازمینهٔ بروز ابرقدرت دیگري رادرصحنه فراهم خواهد ساخت .

بناءً غرب ازموجودیت مسلمانان درگیتي، بالخاصه درقلب اروپا (بوسنیاوالبانیا) سخت درهراس وبیم است. راستي هم جاي تعجب است که باوجود فشارهاي درنده صفتانه دیوکمونیزم درطي صدسال مسلمانان آن مناطق تشخص اسلامي شان رابوجه پسندیده ونکوهي حفظ نموده، بااضمحلال بلاك کمونیزم بیرق آزادي وحریت رادراهتزازدرآوردند .

پس واقعاً تحمل موجودیت همچون مسلمانان دربوسنیابراي ممالك عیسوي مذهب آن خطه خیلي هادشوار است .

ممالك اروپائي مدعي اندکه اروپانه تنهاگهوارهٔ امن، وصلح،اخلاق وتهذیب است، بلکه درحفظ حقوق انساني درجهان لقب قهرماني راکمائي کرده اند. اگرآنهابنابه ادعاي شان ضیاع یك انسان رادرآن منطقه ملاحظه کنند،حتي الامکان درجهت رفع آن خواهندکوشید، حتي تاجائیکه به زعم آنهاازرساندن اذیت وآزاربرجوانان هم اباءي ورزند، ولي متاسفانه این همه ادعاها وبلندپروازي هاي آنهادرقبال مسلمانان بوسنیائي نقش زمین شده، ملت "بیچاره" بوسنیائي به جرم مسلمان بودن بدست همان داعیون صلح وامن ازتیغ کشیده مي شوند، اموال ودارائي شان باچپاول مي گردد ویادرحلقوم آتش ودودفرورفته مالکین شان بي شرمانه ازخانه وکاشانه تبعیدواخراج مي شوند .

جاي تأسف درین جاست که ازیك طرف امت اسلامي نسبت به این ظلم وستم کاملاً بي تفاوت بوده نظاره گرسایس شوم استعماراند وازسوي دیگرمؤسسه ملل متحد درقبال موضوع تنهاباسخنان میان تهي اکتفا میکند ملیشه هاي صربي علناً علیه مسلمانان ازاقدامات هوائي کارگرفته آنها رابه خاك وخون کشانیدند ولي آوازوفریادمظلومانهٔ آنهابه هیچ گوشي نرسید .

ازرفتن کاروانهاي امدادي درمناطق مسلمان نشین ممانعت صورت مي گیرد ،ولي ازجانب اردوي به اصطلاح حافظ صلح سازمان ملل هیچ عکس العملي نشان داده نميشود... چرا؟ ملت مسلمان بوسنیائي هرروزدرآتش آن مي سوزند فقط به این جرم که آنها مسلمان اند ، عیسوي هادرنظردارند تامسلمانان بوسنیائي راازصفحهٔ هستي نابودکنند ولي مسلمانان بوسنیائي جزامداد الهي چیزي دیگري راانتظارندارند .

بوسنیایك کشورکوچك درقلب اروپاست ، زماني هم این کشوربخشي ازدولت یوگوسلاویا بود ، توام بازوال کمونیزم درماه مارچ ١٩٩٢ عیسوي براي آنهاآزادي میسرگردید. بوسنیاکشورمثلث شکلي است که ازطرف شرق وجنوب شرق به صربیاوازجانب شمال وجنوب به کروشیامحاط است . مساحت بوسنیارا(١٩٧٤) میل مربع بوده به هیچکدام بندرگاهي راه ندارد ، پس لازماً برقراري روابط او باجهان خارج ازطریق کشورهمسایه اش کروشیا صورت مي گیرد. بوسنیا یك کشورکوهستان وزراعتي است، بیشترین کوهاي آن سرسبز وشاداب است .

مرکزبوسنیا شهرسرایوو است، که حیثیت مرکزي رابراي مسلمانان یوگوسلاویا کسب نموده است . بوسنیادرسال ٩٦٠عیسوي یك حصهٔ ازسلطنت روم، بودبعدازآن منحیث یك کشورآزادومستقل عرض وجود کرد، نخست هنگري درقرن ١٢ این ساحه رااشغال کرد ودرسال ١٣٨٨ میلادي ترك هابربوسنیاحمله آورگردیدندوپس از چندین جنگ خونین درسال ١٤٦٣ میلادي این کشوررابه عنوان یکي از ولایات خوداعلان نمودند .

مردم بوسنیا درزمان خلافت حضرت عثمان رضي الله عنه ازمزایاي دین اسلام بهره مند شدند ملت بوسنیا جهت مقابله بااحکام جابرآنکشور، زندگي برمبناي اسلام رادرهرامورشان ترجیح دادند، گفته مي شودکه دین اسلام دوسال قبل ازحملات ترکها اشعهٔ نوراني اش رادرین منطقه تابانیده بود ،امآآنانیکه درین مدت به اسلام گرائیده بودند جبراً به پذیرش دین عیسویت سوق گردیدند ، تعداد زیادمردم درزمانهٔ حکومت ترك هااسلام را پذیرفتند . چنانچه گفته میشود که درسال ١٤٦٢ عیسوي ٣٦٠٠٠ فامیل بوسنیائي دریکروز بطوراجتماعي ازنعمات گهربازدین اسلام مستفیدشدند. درزمان حکومت عثماني هابرعلاوه که مردم بوسنیاعهده هاي مهم رادراختیارداشتند ، درفتوحات عثماني هادراروپادرصف اول قرارمي گرفتند. بوسنیا درزمان حکومت عثماني هاترقي زیادنموده درهرمنطقه آن پل ها، مدرسه ها، قلعه ها، خانقاهاومساجد اعمارگردیده بود فعلاً هم مسجد زیبا وبزرگ درشهرسرایو شاهداین ادعاست .

درسال ١٨٩٨ عیسوي جنگ خونین بین مسلمانان بوسنیائي وروسهاواقع گردیدکه درنتیجه عثماني هامجبورشدند این خطه رابه آستریا بسپارند وبعدازآن درسال ١٩٠٨ م بوسنیا بخش ازهنگري گردید،وضع مسلمانان درزمان آستریائي ها خوب بود، ولي پس ازجنگ اول جهاني آستریا سقوط نمود ومتحدین به صربي هااجازه دادندتااین خطه رابه خاك خود پیوست نمایند.

درجنگ بزرگ دوم جهاني این ساحات آماجگاه جنگ هاي گوریلائي برخلاف نازي هاگردید. بهرترتیب هدف عمده گروپ هاي متحارب (نازي هاوصربي ها) قتل ونابودي مسلمانان بوسنیائي بود چنانچه درآن وقت یك صد وبیست هزارمسلمان بوسنیائي به همین ارتباط به شهادت رسیدند .

حینیکه جنگ جهاني دوم خاتمه پذیرفت بوسنیابکي ازجملهٔ شش جمهوریت یوگوسلاویا گردید. مارشال تیتومدت ٣٧ سال دریوگوسلاویاحکومت کرد وختم زمامداري اوازآنکشوردرسال ١٩٨٠م باوفاتش توام بود، نامبرده ضمن آنکه یك شخص مستبدوسخت گیربود کمونیزم رانیزدرمنطقه مسلط ساخت ، درزمان حکومت وي تلاش هاي درجهت ضم مسلمانان بالقائي به اتحادیه کمونیزم صورت گرفت. درانتخابات عمومي سال ١٩٩٠ م که دربوسنیا انعقاد یافت حزب دیموکراتیك اسلامي باکسب راي اکثریت پیروزگردید باني ورئیس این حزب علي جاه عزت بیگوویچ است که یك شخص مسلمان مي باشد.

موصوف دردههٔ ٨٠ به جرم مسلمان بودن روانهٔ سلول هاي زندان شد براي معلومات دررابطه به شخصیت نامبرده میتوان به کتاب

ص(٧)

دمشرانوورولستي پریکړي دملت مراوي هیلي راتاندي کړي

مجیب

زمونږجهادي مشران د(٢٠) ورځواوږدومذاکراتو وروسته چي دجلال آبادښار په قصر کي بي داسلام آباداومکي مکرمي دتعهدپه اساس داسلامي حکومت دکابینې جوړولو په هیوادکي ددایمي اوربند راوستلو، دورور وژني دسلسلي ختمولو اوبالاخره دخپلو کړو وعدوپراساس چي مخکي یې لدي ملت سره کړي وي یعني په هیوادکي دبشپړاسلامي نظام ټینګولو په خاطر، یوتاریخي ترون لاسلیك ، اوبیا دټولو رهبرانو په موجودیت کي یې دغه توافقنامه په داسي حال کي چي دجلال آباددښاریه زرګونو ته اوسیدونکي چي په کي علماء ، جهادي قوماندانان اومجاهدین ، دقومونو مشران طالب العلمان اوداسلامي انقلاب خپلي معیوبین معلولین اویتیمان حاضروو، دغه توافقنامه اعلان اوحاضرینوبه مخکي یې داتعهدوکړ، چي ددغي توافقنامي په بندبندبه په پوره اخلاص ، صداقت اوایمانداري سره عمل کوي .

داچي زمونږدجهادي مشرانو ترمینځ مخکي هم دروانې ستونزي دحل په اړه خوځوځلي مذاکري اوتوافقات شوي خوبیا دعمل په دګرکي دتوافقاتو برعکس چال چلندشوي، نوځکه خیني خلکودجلال آباددخبرو اترو نتایجوته هم دشك اوتردیدپه سترګه کتل . اوله بل لوري خوبیااسلام دښمنه غرب پوري تړلي راډیوګانو دمذاکراتوپه جریان کي داسي دتدوري غږولي اوداآوس هم لګیادي خپل زهرجن تبلیغات کوي، دغوتبلیغاتوهم زمونږ دریږدلي ملت په هغو هیلو اوامیدونو چي له دغه مذاکراتوڅخه بي لرلي، اثرغورځولي و.

لله الحمد چي دمذاکراتونتایج په زره پوري اودملت له انتظار سره برابرراوختل اوزمونږدزوریدلي اوکړیدلي ملت دتیرومذاکراتوڅخه مراوي شوي هیلي بیاتاندي شوي .

دغه مذاکرات اوتعهدات دتیرومذاکراتو اوتعهداتوبه نسبت دیرتوپیرلري یوخوداچي په دغومذاکراتو کي هغه هم په خپل هیوادکي ټولو جهادي مشرانوله یوه دووڅخه پرته چي هغوي هم خپل باصلاحیت نماینده ګان رالیږلي وو، ګډون کړي وو . اوبرته له جهادي مشرانوڅخه هیڅ یوه بهرني هیئت په دغومذاکراتوکي ګډون نه درلود. بل داچي دغومذاکراتوتقریباً شل ورځي په بړکي ونیولي چي داوبر.زیات وخت دي ، اوپه دي شل ورځوکي زمونږمحترم مشران دروان بحران دحل په مختلفو لاروچاروسره وغږیدل ، اوهم زمونږجهادي مشرانودجلال آباد په ښارکي دمختلفو پرګنوداستاځو ، علماوو داسلامي انقلاب دسرښندونکومجاهدینو، معیوبینو ، معلولینو، اویتیمانواوهم دهیواد دراتلونکي نسل (طالب العلمانو) غوښتني هیلي اوامیدونه دټول ملت په نمایندګي څه په فردي توګه اوڅه هم په اجتماعي اواحتجاجي توګه واوریدلي، چي دغه باتوره اوسرښندویه ولس چي په خپلې بې دریغه قرباني سره یې سره امپراوري دري وري اوپه هیوادکي یې دکمونستي نظام جوړي له بیخه وایستلي . نواوس دغه قهرمان اومجاهدولس زمونږنه څه غواړي او مونږددغه ملت په وړاندي څه مسئولیت لرو؟

ځکه له یوي خوامذاکرات اوږده شول اوله بل لوري دخداي (ج) په فضل نتایج دېرمثبت اوارزښتناکه راووتل، چي په نتیجه کي یې دملت په مراوهیلو بوځل بیادامیدساه خوره شوه. او په هیوادکي داسلامي حکومت دټینګیدوهیلي اوآرمانونه زمونږدملت په زړونوکي بیاپه لمبوشول.

